پە دې اوړي کې د کالیفورنیا له ایالت سره د برېښنا بندیدو په مخنیوي کې مرسته وکړئ. ګډونوال د لوړې تقاضا او بېړنیو حالاتو پر مهال د برېښنا د مصرف د کمولو په مقابل کې پیسې ترلاسه کوي چې هدف یې په نوبتي ډول د برېښنا د بندېدو مخنیوی کول دي. ګډون کول په خپله خوښه دي او د برېښنا د مصرف نه کمولو لپاره کومه جریمه نشته.



## د برنامې پیژندنه

د برېښنا د سپموونکي د مکافاتو برنامه ځایي پیرودونکو ته د برېښنا د لوړې تقاضا په مهال په خپله خوښه د خپلو عمومې برېښنا د مصرف د کمولو لپاره پیسې ورکوي.

## ستاسو او ستاسو د کور لپاره یې امتیازات

د برېښنا د سپموونکي د مکافاتو په برنامه کې برخه اخیستونکي به د فلیکس Flex خبرتیا یا د ایالت په کچه د شبکې اړوند نورو بیړنیو حالاتو پرمهال د برېښنا د لړ مصرف له امله د هر کیلو واټ په مقابل کې 1.00 امریکایي ډالره کریډیټ ترلاسه کوي.

## څوک پکې د ګډون کولو وړ دي؟

هر اوسېدونکی چې د SDG&E® بریښنایي خدماتو پیرودونکي وي او ځیرک (سمارټ) میتر ولري. ځایي پیرودونکي نه شي کولی د، د ظرفیتي داوطلبۍ یا د درېمې ډلې برنامې په ګډون د SDG&E په بل تشویقي (مراعاتي) برنامه کې برخه واخلي. د نورو جزیاتو لپاره رسمي شرایطو او مقرراتو ته مراجعه وکړئ. هغه ځایي پیرودونکي چې د یو ټولنېز انتخاب راټولونکي (CCA) یا مستقیم لاسرسي (DA) سره ګډون کوي، د دې برنامې لپاره په شرایطو برابر دي.

## دا برنامه څه ډول ترسره کیږي؟

د شبکې د بېړني حالت په اوږدو کې، د کالیفورنیا خپلواک سیستم چلوونکی (CAISO) به د فلیکس د خبرداري ځانګې (Flex Alert) ته یو زنګ ووهي. کله چې دا کار کیږي، SDG&E به د برېښنا د سپمووونکي د مکافاتو د برنامې د حوادثو ځانګي ته زنګ ووهي او د پیښې څخه یوه ورځ مخکې به خبرتیاوې ور لیږل شوي وي.

## اړیکه

د نورو جزیاتو لپاره یا د برېښنا د سپمووونکي د مکافاتو په برنامه کې د شمولیت لپاره، له ***sdge.com/powersaver*** څخه لیدنه وکړئ.

## د برنامې شرایط

د برېښنایي بیل د اعتبار ترلاسه کولو لپاره، تاسو باید د هغه په پرتله لږ برېښنا وکاروئ چې معمولا یې د برېښنا د سپمووونکي د مکافاتو د برنامې په ترڅ کې مصرفوئ.

## (تشویقولو لپاره) مراعات ورکونه

**1.00**

امریکایي ډالره
په کیلو واټ کې (برېښنا)

## د خبرتیا موده

له پیښې څخه یوه ورځ وړاندې

## ګډون

پیرودونکي نه شي کولی د، د ظرفیتي داوطلبۍ یا د درېمې ډلې برنامې په ګډون د SDG&E په بل تشویقي (مراعاتي) برنامه کې برخه واخلي.

## خطر

د خپلې برېښنا د مصرف د نه کمولو لپاره په تاسو کومه جریمه نشته.

آنلاین
***sdge.com/powersaver***

د تلیفون شمېره
**1-800-411-7343**



© 2024 د سنډیاګو ایالت ګاز او برېښنا شرکت. سوداګریزې نښې د دې شرکت د اړوندو مالکینو ملکیت دی. ټول حقوق یې خوندي دي.